کله مو چې ولیده (میاشت)، نو روژه شئ، او کله مو چې ولیده نو بوزه شئ، او که چېرته درباندې وریځ شوه نو حساب ورته ونیسئ

له ابن عمر رضي الله عنهما څخه روایت دی وایي چې له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه مې اوریدلي دي چې فرمایل یې: "کله مو چې ولیده (میاشت)، نو روژه شئ، او کله مو چې ولیده نو بوزه شئ، او که چېرته درباندې وریځ شوه نو حساب ورته ونیسئ".

[صحیح دی] [متفق علیه دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم د رمضان د میاشتې د داخلېدو او پای ته رسېدو د علامې په اړه وضاحت ورکړی او فرمایلي یې دي: کله مو چې د رمضان میاشت ولیده نو روژه شئ، او که چېرته ستاسو او د میاشتې تر منځ وریځ راغله او درڅخه پټه شوه نو د شعبان د میاشتې دیرش ورځې وشمېرئ، او کله مو چې د شوال میاشت ولیده نو بوزه شئ، او که چېرته ستاسو او د میاشتې تر منځ وریځ راغله نو د رمضان د میاشتې دېرش ورځې وشمېرئ.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/4549